د ننگرهار ولایت تر تقرر وروسته، جمهور رئیس سره لومړنی ناسته

د جمهوري ریاست د لومړي مرستیال، ښاغلي امرالله صالح سفر ننګرهار ته

ننگرهار ته د جمهور رئیس د راتګ یو څو انځورونه

د نوي والي په توګه د ولسونو سره د معرفت غونډه

د معرفت تر غونډې وروسته د غازي امان الله، د عدم تشدد مشر پاچا خان او ملا نجم الدین اخون د مزارونو نه لیدنه

ولسوالیو ته سفرونه

ولسوالیوته سفرونه زما د کاري اجنډا په سر کې و، ترڅو د ولس او حکومت ترمنځ واټن کم شي. د ولسونو سره مې په ولایت او هم په ولسوالیو کې لیدل. په کلونو لرې پرتو ولسوالیو او سیمو ته لوړ پوړوحکومتي چارواکو سرنه وښکاره کړی. د دې سفرونو خوند په دې کې و چې هر ولسوالی ته به چې تللو په بازارونو کې به مو خلکو سره لیدل او د ورایه به د دوی په تندیو کې خوشالي ځلیده. د امنیت په توسعه او راوستلو یې خوشالي ښودله.

اچین او سپین غر ولسوالیو ته سفرونه

د داعش خراسان تر ختمېدو سره د باندر درې د دیوانه بابا سیمې پورې لاړو. د اچین په اسدخیلو سیمه کې امریکایانو د بمونو مور استعمال کړه خو داعش یې ختم نه شو کړلی. د امنیتي او دفاعي قوتونو او ولسونو سره په همغږۍ مو وکړای شول چې د داعش مرکزونه په اچین او سپین غر ولسوالیو کې له منځه یوسو.

ANCOP

چپرهار ته سفر

د چپرهار تصفیې د جلال اباد ښار او نږدې ولسوالیو په امنیت خاص تاثیر درلود او په ننګرهار کې د داعش د ماتې لړې د چپرهار د تصفیه کولو نه وروسته پیل شوله.

بټي کوټ ولسوالۍ ته سفر

د بټي کوټ ولسوالۍ د مشرانو سره د ليدنو انځورونه

لعل پورې ولسوالۍ ته سفر

په امنيتي برخه کې پس له پنځلس کلونو د لعل پورې ولسوالۍ نيول زما د ماموريت لپاره لومړنې بنه لاسته راوړنه وه چې وروسته په نورو ولسواليو کې هم امنيت په تدريجي توګه بنه شو.

د لعل پورې د نيولو نه وروسته د چکنورپه سيمه کې د ولسونو سره مې لويه ناسته درلوده .په لاره کې مو د ننګرهار د نظامي شورا او د ۲۰۱ قول اردو د قوماندان سره يوځای د نوو پوستو د جوړولو نه ليدنه وکړه. په لاره کې مشرانو، ځوانانو او ماشومانو د خوشالۍ په اظهارولو سره زمونږ د موټرو کاروان ته لاسونه جګول

کامې ولسوالۍ ته سفر

کامې ولسوالۍ ته موزیات سفرونه درلودل. کامه د ننگرهار د پرنفوسه او حاصل خیزه ولسوالیو د جملې نه ده چې د جلال اباد ښار ته نږدې واقع او د ولســونو په حمایت هلته ډاډمن امنیت موجود و. د کامې په ولسوالۍ کې یوازې ملي پولیسو شتون درلود. اردو، محلي پولیس او محلي پاڅون کوونکي هلته نه و. په یوې ولســوالۍ کې د زیاتو قوتونو موجودیت که له یوې خوا د امنیت سره مرسته کوي خو که همغږې او مؤثریت نه وي، د زیاتو قوتونو موجودیت په یوې ولسوالۍ کې د امنیت د خرابېدوسبب گرځي.

دره نور ولسوالۍ ته سفر

دا ولسوالۍ هم د ننگرهار د پرامن ولسوالیو څخه ده، چې اکثره ولسونه یې په پشه یې ژبه خبرې کوي او ولسونه یې همیشه د حکومت ملاتړي پاتې شوي دي.

خوګیاڼو ولسوالۍ ته سفر

که څه هم دوه څلې د خوګیاڼیو په ولسوالۍ کې راته کمین ونیول شو خو د ولسونو مینې او د سیمې د ګڼو مشـــرانو سره د مخکنې پېژندګلوۍ په پار، تر خپله وسه مو کوښښ کاوه چې ولســـونو ته خدمت وشي. د ابکو صیب او سرمې پلونو او همداشان د مکاتبو جوړول د مهمو لاسته راوړنو نه

پچیر و اګام ولسوالۍ ته سفر

د پچیر و اګام د مشرانو سره ناستې او توري بوړې سره نږدې د ګیروخیلو د پوستو نه کتنه

سره رود ولسوالۍ ته سفر

سره رود ولسوالۍ ته مې هم زیات سفرونه درلودل ځکه چې زیاته برخه یې د جلال اباد په ښار کې مدغم شوې ده. همېشه مو د مشرانو او ځوانانو سره ناستې درلودې.

تورخم ته د عمران خان راتګ

د جمهور رئیس محمد اشرف غني په هدایت، د ترانسپورت وزیر، یما یاري اوزه تورخم ته لاړو چې د عمران خان سره د ترانزیت د څلورویشت ساعته پرانېستلو په مراسمو کې برخه واخلو. په تورخم کې مو د خیبر پښتونخوا د ګورنر ښاغلي شاه فرمان او اعلی وزیر ښاغلي محمود خان سره هم وکتل. د موضوع تفصیل په کتاب کې تشریح شوې ده.

تورخم قرنطین

د تورخم قرنطین یوه لویه غوغا ایجاد او په عامه پوهاوې کې یې زیاته گټه وکړه. د تورخم قرنطین د بحران د مدیریت یوه ښه بیلگه وه چې په کتاب کې تفصیل ورکړل شویدی.

دور بابا

د گوړوکو په سیمه کې د کلینک د جوړولو د چارو د پیل غونډه

کوټ ولسوالۍ ته سفر

د مشرانو سره ناسته او د شهید حاجي حیات خان روح ته دوعا کول

د گوشتې ولسوالۍ ته سفر

د گوشتې ولسوالۍ نه لیدنه او مشرانو سره ناسته

د کوز کونړ (ښیوې) ولسوالۍ ته سفر

د مشرانو سره ناسته او د کاشکوټ او کچړې د سرک د جوړولو د افتتاح مراسم

مومندرې ولسوالۍ سفر

د مومندرې د مشرانو سره ناسته او د کلینک د جوړولو د افتتاح مراسم

نازیانو ولسوالۍ ته سفر

د نازیانو ولسوالۍ ډیر وخت د داعش په کنترول کې وه. دا سیمه د اچین ولسوالۍ په باندر دره کې د داعش او هم د منګل باغ د لشـکر اسلام د تروریستي ډلې له خوا تر تهدید لاندې وه .د نازیانو د دوه خولې پورې لاړو. په لاره کې مو په ماشومانو کتابچې وویشـــــــتلې او امنیتي قواوې تقدیر کړې. د ماشومانو خوشـالۍ د امنیتي قواوو په منځ کې یو ډول روحي سـکون رامنځته کړ چې د دوی قرباني دراتلونکې نسل لپاره ده او ولسونه باید د خپلو امنیتي او دفاعي قواوو قرباني د یاده ونباسي.

هسکې مېنې ولسوالۍ ته سفر

د هسکې مېنې ولسوالۍ ته زما لومړنی سفر خوشالونکی او هم دردونکی و چې تفصیل یې په کتاب کې لوستلی شي. عکسونه د پاپین په لیسه کې د هسکې مېنې د ښوونځیو بیا پیلول پس له درېیو کلونو له څنډ څخه دي. دا سیمه او لیسه یو وخت د داعش مرکز و. په لومړي ځل مې د ولسي شاعر شهید حاجي ګل خالق سره هم دلته ولیدل. د دښمن د ځانوژنکو حملو احتمال هره لحظه و؛ نوسرتیري او حتی ورسره ساتونکي سپي هم باید هره لحظه د دښمن تحرکاتو ته متوجه وي.

unicef

روداتو ولسوالۍ ته سفر

د روداتو ولسوالۍ د مامورینو او مشرانو سره ناسته او د ولسوالۍ نه لیدل

د شینوارو (غني خېل) ولسوالۍ ته سفر

د ننگرهار د نظامي شورا د غونډو یو څو انځورونه

هره اوونۍ او یا د اړتیا په صورت کې لا زیاتې نظامي غونډې نیولې خو د نظامي راز د نه افشـــاء په خاطر مو اکثره وخت د غونډو انځورونه او پلانونه د رسنیو سره نه شریکول. او هم په لومړي ځل مو په مخدره موادو روږدې کســـــان کابل ته د تداوې لپاره ولیږل. د دې نه برسیره یو ځل تقریبا یولس ټنه چاودیدونکي توکي چې د چیرات په سیمنټو بوجیو په فابریکه په ښـه توگه بند شوې ول، ونیول شول چې هغه وخت رسنیو ته هم ښکاره شول.

Welcome to new JOC!

د کورنیو چارو ارشد معین جنرال خوشال سادات سره ناسته

چاودیدونکي توکې چې د چیرات په سیمنتو بوجیو کې ځای په ځای شوې و

په لومړي ځل د جلال اباد د ښار نه په مخدره موادو روږدو کسانو راټولول
او کابل ته د تداوي لپاره لیږل

د هرې سه شنبې په ورځ والي او یا د والي مرستیال به د اړوندو ادارو د مسوولینو سره یوځای د ننګرهار د ولسونو او مشتریانو سره بې له وخت اخیستنې کتل او د هغوی ستوځو ته مو تر ممکنه حده رسیدګي کوله

اخترونه د ځوانانو او مشرانو سره

د ننګرهار پوهنتون نه مې همېشه لیدنه کوله او د استادانو سره ناستې راته سکون راکوه

د شهید نقیب احمد خپلواک د نجونو د ښوونځي نه کتنه

د خپلواکۍ د سلمې کلیزې د جشن او د بیرغ د ملي ورځې
د نمانځلو یو څو انځورونه

د دغه دوه مراسمو نمانځلو په ننګرهار کې یو شور او ولوله ګډه کړه چې په مرکز او ولسوالیو کې په ښه توګه ونمانځل چې د افغانستان د نورو سیمو لپاره هم الګو وه. دغه مراسمو په ننګرهار کې فرهنګي تغیر رامنځته کړ او حس د مالکیت یې خلکو ته ورکړ چې د خپل هېواد د منافعو نه دفاع وکړي.

لا اله الا الله محمد رسول الله
الغازی امان الله خان

ولایت مقام او ننگرهار پوهنتون له خوا؛
(آزادي تر پاچاهیه لا تیږی کا)
یو ورځنی علمي سیمینار
افغانستان
زمری ۲۸ اسد

د شاه غازي امان الله خان د مقبرې د بیا رغونې د چارو یو څو انځورونه

په لومړۍ ورځ مې چې د غازي امان الله خان د مقبرې نه لیدنه وکړه، د هغه وخت یو انځور کتلی شي، چې مقبره په بد حالت کې وه، د مقایسې په توګه یې د نوي انځورونو سره پرتله کولی شئ.

د جلال اباد ښار او د ننګرهار په ولسوالیو کې په دومداره توګه د پروژو نه لیدنه او تعقیب

.د هرې پروژې تر شا ټولنیزې ستونځې موجودې وې. تر څو هغه ټولنیزې ستونځې نه وې حل شوې، د پروژو عملي کېدلو امکان نه درلود. دغه ستونځې د میز تر شا نه نه شوې حل کېدلی ساحو ته تللو او د ولسونو سره مو مشکل ځای پر ځای حل کاوه. همدا علت و چې په ننګرهار کې په سل ګونو نوې او ولاړې پروژې په ډېر لنډ وخت کې پیل او تکمیلي شــــولې چې د ځینو په هکله په کتاب کې یادونه شوې ده.

MASHA ALLAH
SUPER POWER

د سرخاب پل او د یوسف میړني چوک (سره رود دوه لارې) ترمنځ د سرک پراخول او د چوک جوړول په نوې بڼه

د پاچا خان د مقبرې جوړول

د پاچا خان د مقبرې تهداب د ډاکتر نجیب الله د حکومت په وخت کې کېښودل شو خو کار یې هماغسې پاتې و. د کرزي صیب په دور کې هم څو ځلې هلې وشولې او بودیجه یې هم حیف میل شوله خو همداسې ګډوډ پروت و. د ولایت د دندې په لومړۍ ورځ مې د شاه غازي امان الله خان، پاچا خان او اخونزاده صیب د هډې د زیارتونو نه لیدنه وکړه او د ژورنالستانو لومړۍ پوښتنه همدا وه چې دا مقبرې چې کلونو راهیسې ورانې ویجاړې پرتې دي، څه پلان ورته لري. ما وعده ورنه کړه خو ورته مې وویل چې زما د دوی د فکر سره کار دی او دا مقبرې به هم یوه ورځ جوړې شي. هماغه و چې تر دوامداره تعقیب وروسته،زما د ولایت په لنډه دوره کې، د شاه امان الله خان او پاچا مقبرې په ښه شکل سره جوړې شولې چې په هېواد کې دننه او بهر د دې مقبرو جوړېدل د هېوادوالو او افغانانو لخوا وستایل شول.

قل اعوذ برب الناس ۝ ملك الناس ۝ اله الناس ۝ من شر الوسواس ۝
الخناس ۝ الذی یوسوس فی صدور الناس ۝ من الجنة والناس ۝

د جلال اباد د شاهي ماڼۍ رغول

د جلال اباد شاهي ماڼۍ چې په تېرو شپږو لسيزو کې يې اساسي رغونه نه وه شوې، د غورځېدو په حال کې وه چې کار مو پرې پيل کړ او زما د تګ تر وخته يې تقريباً ۸۰ سلنه کارونه تکميل شوی و. د کار د جريان او هم مخکنيو يو څو انځورونه چې دا تاريخي ابده په څنګه بد وضعيت کې وه.

د پښتونستان چوک بیا جوړول

د پښتونستان چوک جوړول او د پښتونستان بېرغ بیا ځړول یو تاریخي اقدام و. په چوک کې د لسو عکسونو د ځړولو ځای و چې تفصیل یې په کتاب کې ذکر شوی دی.

خدای دې وبښي ډاکټر عبدالروف هروي د قانون اساسي د څار د کمېسیون مشر
د کار په لومړۍ ورځ دا نښان راکړ چې قانون باید تطبیق کړم

د احمدزیو د مشرانو سره کتنه

د افغانستان د علماو د شورا د رئیس مرحوم مولانا قیام الدین کشاف او د ننگرهار له علماوو سره ناسته

د مهمندرې مشران

د ننګرهار د سکهانو د درمسال نه کتنه

د ولس په غم او درد کې شریکېدل او نږدې اړیکې په حکومتولۍ کې مهم رول لوبوي

د ټاکنو تر ختم وروسته امنیتي ادارو مشرانو سره خبرې کنفرانس د ټاکنو د پیښو په هکله

د جمهوري ریاست د ټاکنو د رای اچونې نه وروسته انځور

د رایه اچونې نه وروسته د ننګرهار د سکهانو یو انځور

د رایو اچونکو یو انځور

د کرونا فنډ له لارې د مرستو د ویش د سروې یو څو انځورونه

پاکي د ایمان برخه ده

د داعش د اخري گروپونو تسلیمدل

داعش مرکزونه له منځه وړل او د دوی د اخرې ډلگیو د تسلیمدو یو څو انځورونه. په دغه انځورونو کې د یو پاکستان، یوې هندې او درې اردنیانو سره مرکې گورئ چې په دې برخه تفصیلي یادونه شوې ده چې د داعش مرکزونه څنگه په ننگرهار کې ختم شول.

د ډاکتر ناکامورا سره یو انځورونه

د ډاکتر ناکامورا د وژل کېدو قصه په تفصیل سره بیان شوې ده. د نوموړي د وژل کېدو پېښه نه یوازې د ننګرهار لپاره بلکې د ټول افغانستان لپاره زړه دردونکې پېښه وه

د جلال اباد سپین جومات د کار د بیا پیل یو څو انځورونه

د جلال اباد د سپین جومات کیسه په تفصیل سره یې بیان شوې خو زه یې شپږم والي وم چې د دې جومات کارونه د فساد له وجهې نه تکمیدلیدل. قرارداد مو لغو او کار پرې بیا پیل کړ چې زما د راتګ پورې زیاته برخه کارونه شوې و او یو څه پاتې و چې ان شاالله امید شته چې هغه به هم ژر تکمیل شي.

د افغانیو د ترویج د مرحلو یو انځورونه

پس له تقریباً څلورنیم لســـــیزو د کلدارو بندول او د افغانیو ترویجول په ننګرهار کې او هم په شرقي ولایتونو کې یو له مهمو کارونو نه و. مســـاجدو، بازارونو، مغازو، پوهنتونونو او عامه ځایونو ته لاړو او خپل ژوند مو هم په خطر کې اچولی و خو د خپلو متعهدو ټیمونو او د ننګرهار د ولسونو په همکاري مو نا شونې پروسیه بریالۍ کړه. که څه هم کلدارې د خلکو د جیبونو نه ورکې شوي دي خو له ځینو کسانو د مغزو نه لا کلدارې ورکې شوې نه دي چې دا هم وخت غواړي. د کلدارو رواجول او حس د مالکیت د وطن یو لوی فرهنګي تغیر په ننګرهار کې و. د ادم خان کبابي په لمن کې مو هم یو ځو افغانـی د بخشش په توګه واچولې ځکه هغه د اعلان سره سم د خپلو مشتریانو نه کلدارې د خلکو نه اخستلې او افغانۍ به یې په لمن کې پرتې وې.

گاز
076-4444100

دفتر
2008

ادم خان کبابي لمن کې افغانی وي نو ما هم ورته یو څو افغانی په لمن کې واچولې

د جلال اباد په شاهي ماڼۍ کې د ۱۴ ولایتونو د والیانو د درې ورځنې
کنفرانس یو څو انځورونه

UNDP
Islamic Republic of Afghanistan
د کابل محترم والی
د ننګرهار محترم والي
د غزني محترم والي

د کرونا د اوبا سره د مبارزې یو څو انځورونه

د کرونا اوبا د بحران ترڅنګ یو فرهنګي تغیر هم و چې ښځګه خلک په خپلو عادتونو کې تغیر راولې. د کرونا فنډ ایجاد، د رضاکارانو مرسته، د تجرید مرکز ایجاد، په ولسوونو د مرستې غبږ چې د تورخم د قرنطین لپاره توشکې او نور امکانات برابر کړي، د ناستې ولاړې او مجالسو طریقه بدلول، د دفاترو په مخ کې د صابون او اوبو ایښودل او لاسونه پریمنځل، د ماسک اچولو سره عادت کیدل. د مختلفو اقشارو سره عامه پوهاوی او کار، قرنطین او نیمه قرنطین عملي کول، د یو بل نه فاصله نیول او لاس نه ورکول، یو لوی فرهنګي تغیر او د بحران مدیریت ماډل په ننګرهار کې و چې د افغانستان په کچه یې ساری نه درلود. په انځورونو کې ګورې چې په ننګرهار کې د کرونا د ناروغی د لومړي قرباني، ډاکتر حنیف الله حنیف جنازه د ښاروالي او امنیه قوماندانې په مرسته ښخه کړې شوله. تفصیل یې په کتاب کې ذکر شوی دی.

مخکي دستر مشي خپل
لاسونه ومنځي

په ننګرهار کې د کرونا له وژونکې ناروغۍ سره د
مبارزې د ډګر مخکښ او زیارکښ ډاکټر عبدالعزیز روحاني

د ډاکټر حنیف الله جسد چې د کابل نه ننګرهار ته راوړل شو، خلکو په هدیره
کې نه پرېښود، چې بیا د ښاروالي او امنیه قومندانی له خوا خاورو ته وسپارل شو

د نظارت او ارزیابۍ ټیم
د کرونا ضد صندوق د
مرستو د ویش څخه نظارت

د انعکاس د تلویزیون له لارې ولسونو ته د حساب ورکونکې یو څو انځورونه

په ۲۰۱ سیلاب قول اردو کې د ښې حکومتولۍ په هکله بریدملانو او افسرانو ته لیکچر

په ملکي او نظامي ادارو کې د مېرمنو د ونډې زیاتول د کارې اجندا یوه مهمه برخه وه

په ننگرهار کې د ډگرجنرال محمد زمان وزيري او ډگرجنرال نظر علي واحدي د خدمت ستاينه

ننگرهار نه د خدای په امانۍ انځورونه

د ننگرهار د ټولو اقشارو او ادارو له خوازما د ماموریت د دورې کارونه د مډالونو په ورکولو، مېلمستیاوو، ستاینلیکونو او بدرگو ونمانځل شـول چې زه د ټولو ننگرهاریانو د مینې پوروړلی یم. د خدای په امانۍ مراسم په ژوندۍ بڼه هغه وخت د ځینو رسنیو او ټولنیزو شبکو له لارې نـشر شول چې فکر کوم د ننگرهار په تاریخ کې به یو والي په دا شان په عزت رخصـتول ساری نه درلود. همدازما د کورنۍ، دوستانو او ما لپاره د افتخار ځای دی چې د ماموریت تر ختم وروسته ولسونه د یو مامور کارونه وستایي. د ننگرهار نه د یو خو کتابچو د یاد داشتونو سره لاړوم چې نن ترې دا کتاب جوړ شو.

ننگرهار ولایت مقام

د هیواد ستري محکمې رهبرۍ له لوري د ننګرهار
قدرمن والي شاه محمود (میاخیل)

ACCI
اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان
د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق
د ننګرهار سوداګرۍ او پانګونې اتاق
د ننګرهار د قدرمن والي ښاغلي شاه محمود میاخېل د ترسره

په ننګرهار کې د کړي خدمت په بدل کې د ولسمشر محمد اشرف غني له لوري د وزیر محمد اکبر خان د عالي مډال منظورول

د غازي وزیرمحمد اکبرخان
مډال

د افغانستان اسلامي جمهوري رياست

د ۱۳۹۹/۳/۳۱نیټې د(۳۴)مې ګڼې فرمان له مخې

ښاغلي شاه محمود میاخیل ته

د غازي وزیرمحمداکبرخان مډال

ورکړل شو

د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس

ریاست دفتر
آمریت ثبت احکام و فرامین

د افغانستان اسلامي جمهوري ریاست

د ننګرهار والي ښاغلي شاه محمود میاخیل ته

د غازي وزیر محمد اکبر خان دولتي مډال د ورکړې په اړه

فرمان

د ننګرهار والي ښاغلي شاه محمود میاخیل خپلې اړوندې دندې په بریا او ربښتینولۍ ترسره کړې، په ځانګړې ډول یې د ننګرهار ولایت د امنیت او ثبات په برخه کې د همغږۍ تامینولو، د داعش پر وړاندې د مبارزې، د بهرنیو اسعارو د چلند مخنیوي، د لرغونو آثارو د ساتنې او ولسونو ترمنځ د همکارۍ په برخه کې هڅې او هلې ځلې کړې چې د تقدیر وړ ګڼل کیږي.

له همدې امله، د هغه د غوره کړنو د قدردانۍ په موخه، د افغانستان اساسي قانون د (۶۴مې) مادې د (۱۹مې) فقرې له حکم سره سم، نوموړي ته د غازي وزیر محمد اکبر خان دولتي مډال ورکړه منظوروم.

د لوی خدای (ج) له درباره نوموړي او ټولو دولتي کارکوونکو ته د هېوادوالو د خدمت په لاره کې د لا زیاتو بریاوو هیله کوم.

محمد اشرف غني

د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس

حکمت الله د شېرزادو اوسېدونکی چې زما د وژل کېدو پلان یې درلود ولایت سره نږدې، تفنگچې سره ونیول شو

د ډنډ غاړې تر پاکولو وروسته د اصنافو د مشرانو حاجي عزیزالرحمن او شکرالله جلندري سره کتنه

هغه موټر بمب چې پرما د حملې لپاره برابر شوی و؛ ونیول شو چې تفصیل
یې په کتاب کې شوی دی